# شتمني SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


**رسول الله ﷺ فرمايلي دي:**
خوک، چي زما سنت پالي، هغه له ماسره مینه لري او څوک، چي له ماسره مينه لري هغه به له ما سره په جنت کي وي.[(مشکواةالمصابیح) ۱۷۵]

**رسول الله ﷺ می فرماید:**
کسانیکه، سنت من را پیروی میکند، آنان با من محبت میورزند و کسانیکه، با من محبت میورزند آنها با من در بهشت خواهد بود.[(مشکواةالمصابیح) ۱۷۵]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)


شنبه| د شعبان المعظم ۹-۱۴۴٦ال س/ د سلواغې ۲۰-۱۴۰۳ال ل/ د فیبروري ۸-۲۰۲۵ز/څلورم کال / ۱۳۲ گڼه/ ٤ مخیزه




## سرمقاله

# احتکار در بازار

احتکار به معنی کنترول یا محدود کردن تولید، توزیع یا قیمت کالا ها یا خدمات که توسط یک شرکت یا گروه شرکت‌ها است به نحوی که این شرکت یا گروه توانایی تعیین شرایط بازار را به دست می‌گیرد. این مفهوم اغلب با تصور محدودیت رقابت، افزایش قیمت‌ها و کاهش گزینه‌های مصرف‌کنندگان همراه است. احتکار ممکن است به صورت توافقی بین شرکت‌ها انجام شود یا به صورت فردی انجام شود. این موضوع معمولاً برای جلوگیری از ورود رقبا به بازار یا کاهش رقابت‌پذیری موجود در بازار صورت می‌گیرد. احتکار می‌تواند به توسعه قدرت بازاری یک شرکت یا گروه شرکت‌ها منجر شود و ممکن است منافع مصرف‌کنندگان را تحت تأثیر قرار دهد. در بسیاری از کشورها، احتکار توسط قوانین ضد احتکار و نظارتی کنترول می‌شود و فعالیت‌های احتکاری ممکن است با جریمه یا تحریم‌های دیگر متخلفان همراه شود. این اقدامات به منظور حفظ رقابت در بازار، محافظت از حقوق مصرف‌کنندگان، و ایجاد یک محیط رقابتی و عادلانه برای تمامی شرکت‌ها انجام می‌شود. احتکار می‌تواند تأثیرات مختلفی در بازار و بر روی مصرف‌کنندگان و اقتصاد داشته باشد. برخی از نتایج احتکار عبارتند از: افزایش قیمت: شرکت یا گروهی که احتکار دارد، ممکن است بتواند قیمت‌ها را به صورت نامتعارف افزایش دهد، زیرا عدم رقابت منجر به کنترول قیمت می‌شود. کاهش کیفیت: زمانی که یک شرکت یا گروه شرکت‌ها احتکار دارند، احتمال کاهش کیفیت محصولات یا خدمات وجود دارد زیرا عدم رقابت ممکن است تحریک به بهبود کیفیت را کاهش دهد. کاهش انتخاب: احتکار می‌تواند منجر به کاهش گزینه‌های مصرف‌کنندگان در بازار شود، زیرا رقبا از ورود به بازار با شرایط رقابتی مناسب ممانعت می‌کنند. کاهش نوآوری: در مواجهه با احتکار، شرکت‌ها ممکن است تحریک به نوآوری و توسعه محصولات را از دست بدهند، زیرا عدم رقابت می‌تواند انگیزه برای این اقدامات را کاهش دهد. تضعیف رقابت: احتکار می‌تواند منجر به تضعیف رقابت در بازار شود، که در نتیجه ممکن است مصرف‌کنندگان و حتی اقتصاد به طور کلی آسیب ببینند. در نهایت، نتایج احتکار ممکن است بر تعادل بازار، رفاه مصرف‌کنندگان، رقابت سالم و رشد اقتصادی تأثیر بگذارد. به همین دلیل، قوانین ضد احتکار و نظارتی معمولاً جهت حفظ رقابت و حقوق مصرف‌کنندگان تدابیری را در برابر احتکار اتخاذ می‌کنند. ولی از سوی دیگر ادارات مرتبط به منع احتکار امارت اسلامی افغانستان همواره آن عده افراد که دست به این عمل غیر انسانی و خلاف شریعت میورزند را همواره تعقیب نموده و آنانرا به پنجه قانون سپرده است تا باشد بازار عاری از احتکار به وجود آید.

**با احترم**

**اداره**

# د کورني صنعت د ودې په موخه د یو شمېر اقلامو د تعرفو په اړه مهمې پرېکړې وسوې

د ماليې وزارت د گمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د تعرفې کمېټې د روان (۱۴۰۳ هـ.ل) کال پنځمه ناسته د یاد معینیت د غونډو په تالار کي ترسره سوه. د ناستي په پیل کي د تعرفې ریاست له لوري د لاندي ذکر سویو اقلامو په اړه د سوداگرو او صنعتکارانو غوښتني واورېدلې او سوداگریز، صنعتي او د بازار تحلیل ئې د غونډې له گډونوالو سره شریک کړ، چي د تعرفې کمېټې غړو د یادو اقلامو په اړه تر هر اړخیز بحث وروسته له کورني صنعت څخه د ملاتړ، د سوداگرۍ او ملي عوایدو د ودې اصل ته په کتو لاندي پرېکړې وکړې، چي له منظورۍ وروسته به د تعرفې له اصولو سره سم پلي سي.

| گڼه | د توکي نوم | د گمرکي تعرفې مخکینۍ سلنه | اوسنۍ تاکل سوې تعرفه |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | گل خانه يي رول پلاستیک | ۸٪ | ۱٦٪ |
| ۲ | گوگړ/اور لگید | ۱۰٪ | ۱٦٪ |
| ۳ | د ماشومانو د لوبو سامان | ۲۰٪ | ۳۰٪ |
| ۴ | پريفارم (نيمه پروسیس سوي بوتلونه) | ٪٦،٥ | ۱۲٪ |
| ۵ | هگۍ (عادي تعرفه) | ۱٦٪ | ۲٥٪ |
| ٦ | هگۍ (موسمي تعرفه) | ۲۰٪ | ۳۰٪ |
| ۷ | ترکي بخارۍ | ۱۰٪ | ۲۰٪ |
| ۸ | د خرخ پل | ٥۰٪ | ٪۲،٥ |
| ۹ | د لرگيو دروازې | ۱۰٪ | ۱۲٪ |
| ۱۰ | خام پاپړ | ۲٥٪ | ۴۰٪ |
| ۱۱ | د موټرسایکلونو پُرزې | ۸٪ | ۱۲٪ |
| ۱۲ | اوسپنيز شمش | ٥٪ | ۱٪ |

همداشان په سوداگرۍ کي د اسانتيا له پاره په یاده کمېټه کي د یو شمېر توکو له پاره د تعرفې ملي کوډونو پر جوړېدو هم پرېکړه وسوه.

# د سوداگريزو شرکتونو له لوري د راوړل سويو کانتېنرونو په تړاو د ماليې وزارت خبرتیا!



له ماليې وزارت څخه د سوداگرو په غوښتنه، د گمرکونو لوی رياست د اداري ناستي د پرېکړې او د گمرکونو او عوایدو معینیت د منظورۍ پر اساس، هغه کانتېنرونه، چي د سوداگريزو شرکتونو له لوري افغانستان ته په لنډ مهاله توگه را وارد سوي وي، د موجوديت درې مياشتي موده ئې بشپړه کړې وي او پر ټاکلي وخت بيرته صادر سوي نه وي، څښتنانو ته ئې په درنښت خبر ورکول کېږي، چي خپل کانتېنرونه د روان (۱۴۰۳ هـ.ل) کال د کب/ حوت مياشتي تر پای ته رسېدو مخکي بيرته صادر کړي. د دغې پرېکړې، د نه عملي کولو په صورت کي به موجود کانتېنرونه د گمرکي محصول تابع وگرځي، چي څښتنان ئې بیا د هيڅ ډول شکایت حق نه لري. یادونه: د گمرکي اصولو پر بنسټ کله، چي سوداگريز شرکتونه له سوداگريزو توکو ډک کانتېنرونه افغانستان ته را واردوي، لازمي ده، چي د دريو مياشتو په موده کي ئې بيرته له هیواده صادر کړي؛ د نه صادرېدو په صورت کي به د گمرکونو اصول پرې پلي سي.



د گمرکونو او عوایدو معین د کاپیسا او پروان ولایتونو د مستوفیتونو چاري و ارزولې


م ۲




د گمرکونو او عوایدو معین د میدان وردگو مستوفیت له چارو څخه لیدنه وکړه


م ۲





د گمرکونو لوی ریاست د روان کال نولسمه اداري ناسته وسوه


م ۲





د روان کال په درېیمه ربعه کي د تشخیصیه نمبر مرکزي آمریت لاسته راوړني


م ۲




د بهرنیو اسعارو پر وړاندي د افغانیو ارزښت کمېدل


م ۳


- په کلني ډول دي د ملي محصولاتو نندارتونونه په ترمِز نړیوال سوداگریز مرکز کي تنظیم سي
- په (۲۰۲٤)ز کي د اُزبکستان او افغانستان ترمنځ سوداگریزه تبادله (۱,۱۳) میلیارډه ډالرو ته رسېدلې ده
- تمه ده د افغان – اُزبک تر منځ سوداگریز حجم (۳) بیلیونو ډالرو ته لوړ سي.

اُزبکستان او افغانستان د سوداگریزو تړونونو په اړه لاسونه سره ور کړل


م ٤

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

# د گمرکونو او عوایدو معین د کاپیسا او پروان ولایتونو د مستوفیتونو چارې و ارزولې

د مالیې وزارت د گمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید د خپلو ولایتي سفرونو په لړ کې دا ځل کاپیسا او پروان ولایتونو ته رسمي سفر وکړ او هلته ئې د یادو ولایتونو د مستوفیتونو د چارو ارزونه وکړه او کاري بهیر ئې له نږدې ولید. نوموړي په دې لیدنه کې د یادو مستوفیتونو مسؤلینو ته په پوره صداقت او ایمانداری سره د اړوندو چارو د ترسره کولو، پر وخت سره د مراجعینو ستونزو ته د رسېدو او له هغوی سره د نېک چلند، په چارو کې د لازمي همغږۍ او همکارۍ رامنځته کولو او یو شمېر نورو برخو کې لازمي سپارښتني وکړې.







د یادولو ده، چې د گمرکونو او عوایدو معین بېلابېلو ولایتونو ته سفرونه کوي؛ څو د یاد معینیت د اړوندو ادارو له چارو څخه د لیدني ترڅنگ د هیوادوالو ستونزي هم له نږدې واوري او پر تاکلي وخت رسېدنه ورته وکړي.

# د گمرکونو او عوایدو معین د میدان وردگو مستوفیت له چارو څخه لیدنه وکړه

د مالیې وزارت د گمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید د خپلو رسمي ولایتي سفرونو په لړ کې دا ځل د میدان وردگو ولایت ته سفر وکړ او هلته ئې د یاد ولایت د مستوفیت له چارو څخه له نږدې لیدنه وکړه. د گمرکونو او عوایدو معین په دې لیدنه کې د یاد ولایت د مستوفیت مسؤلینو ته سپارښتنه وکړه، چې اړوندي چاري په پوره صداقت ترسره کړي، د مراجعینو ستونزو ته پر ټاکلي وخت د رسېدني ترڅنگ له هغوی سره ښه چلند وکړي. نوموړي همداراز د یو شمېر نورو موضوعاتو په تړاو لازم هدایات ورکړل.

د یادوني وړ ده، چې د گمرکونو او عوایدو معین بېلابېلو ولایتونو ته سفرونه کوي، څو له نږدې څخه د یاد معینیت د اړوندو ادارو د چارو د لیدني تر څنگ د هیوادوالو ستونزي هم له نږدې واوري او پر خپل وخت ورته رسېدنه وکړي.



# د گمرکونو لوی ریاست د روان کال نولسمه اداري ناسته وسوه


د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست د روان (۱۴۰۳هـ.ل) کال نولسمه اداري ناسته د گمرکونو لوی رئیس مولوي محمد حامد احمد په مشرۍ د یاد ریاست په مقام کې وسوه، چې د گمرکونو لوی ریاست تخنیکي او عملیاتي مرستیالانو، رئیسانو او یو شمېر آمرینو گډون پکښې کړی وو.




په دې ناسته کې د صادراتي، وارداتي او ترانزیتي توکو په گمرکي طی مراحلو کې پر سته ستونزو او حل لارو، د گمرکونو او عوایدو د همغږۍ ناستي د پرېکړو د پلي کېدو پر څرنگوالي، د سوداگریزو شرکتونو له لوري د راوړل سویو کانتینرونو په بیرته صادرولو، د گمرکونو لوی ریاست د ورځنیو چارو پر لا ښه والي، په گمرکونو کې د یو شمېر سوداگریزو شرکتونو او صنعتکارانو د غوښتنو او ستونزو پر حلولو او یو شمېر نورو موضوعاتو خبري وسوې او په اړه ئې لازمي پرېکړي وسوې.

# د روان کال په درېیمه ربعه کې د تشخیصیه نمبر مرکزي آمریت لاسته راوړني

د تشخیصیې نمبر مرکزي آمریت د هغو حقیقي او حکمي اشخاصو له پاره چې له مالیاتي اصولو او کړنلارو سره سم د مالیې د ورکړې تابع گرځي، د تشخیصیه نمبر ثبت او وېشلو په برخه کې فعالیت کوي. د تشخیصیې نمبر مرکزي آمریت، چې د عوایدو لوی ریاست د سیستمونو ریاست تر چتر لاندي خپلي چاري پر مخ وړي د روان (۱۴۰۳هـ.ل) کال په درېیمه ربعه کې ئې د پام وړ اسانتیاوي او لاسته راوړني رامنځته کړي دي، چې له دې ډلي څخه ئې په ټول هیواد کې (۱۱۷۳۱۱) او په مرکز کې (۱۵۵۱٦) تشخیصیه نمبرونه تر تائیدۍ وروسته وېشلي، (۱۷٤۲) نوي بنسټونه ئې رامنځته کړي، په (۱۲۵۷) بنسټونو کې ئې اړین بدلونونه را وستلي، همدارنگه ئې د (۲۷٦٦) بنسټونو مالیاتي مرکزونه بدل او د تشخیصیې په سلگونو تکراري نمبرونه ئې له منځه وړي دي، چې ورسره په اړوندو چارو کې د پام وړ پرمختگ او ښه والی رامنځته سوی دئ. له دې سره سره د دغه آمریت په اړوندو څانگو کې گڼې برېښنایي اسانتیاوي هم رامنځته او گټي اخیستني ته سپارل سوي دي. په پایله کې دغو اسانتیاوو، سلگونه باقیدار مالیه ورکوونکي دې ته اړ کړي دي، چې خپل مالیاتي وجایب په مناسب وخت او ډاډه زړه ادا کړي.




# د مرکز او ولایتي گمرکونو ۴۰ تنو کارکوونکو ته یو میاشتنی روزنیز پروگرام پیل سو

د مالیې وزارت د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ له کلني تدریسي پلان سره سم، د مرکز او ولایتي گمرکونو (۴۰) تنو کارکوونکو ته د گمرکي قوانینو، طرزالعملونو، بیې ټاکني او بررسۍ په برخو کې روزنیز پروگرام پیل سو. په همدې تړاو جوړه سوې غونډه کې د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس مولوی عبدالهادي سیف الخالد، د گمرکونو لوی ریاست د قانون پلي کولو رئیس حافظ حضرت علي، د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ آمر بلال احمد احدي او د یادي اکاډمۍ ښوونکو گډون کړی وو. د غونډې په پرانیستې وینا کې د دعوت او ارشاد رئیس وویل، چې هر نظام نظم ته اړتیا لري او ټول کارکوونکي باید په پوره صداقت او سپېڅلتیا خپلي چاري ترسره کړي. د گمرکونو لوی ریاست د قانون پلي کولو رئیس، روزنیز پروگرامونه د کاري بهیر په ښه کولو کې خورا مهم وبلل او ټینگار ئې وکړ، چې کارکوونکي باید له دې اسانتیاوو څخه اعظمي گټه واخلي او مسؤلیتونه په پوره اخلاص او ریښتینولۍ سره سرته ورسوي. د مرکز او ولایتي گمرکونو کارکوونکو ته جوړ سوی روزنیز پروگرام به یوه میاشت دوام وکړي، چې له دې سره به د یادو گمرکونو د کارکوونکو وړتیاوي لوړي او د اړوندو گمرکونو په چارو کې به هم لا ښه والی راسي.

د یادوني وړ ده، چې د ولایتي مستوفیتونو مالیاتي حوزو او د اصنافو برخي (٤٦) تنو کارکوونکو ته د مالیاتي قوانینو او مالیاتي سیستمونو په برخو کې د (مسلکي کولو) تر سرلیک لاندي جوړ سوی روزنیز پروگرام هم د تصدیق پاڼو په وېشلو سره پای ته ورسېد.




# تېره اوونۍ د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې په زیاته کچه قاچاقي توکي نیول سوي دي



د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست د گرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د نیمروز، کندهار، فراه، ننگرهار او هلمند ولایتونو په بېلابېلو سیمو کې (۴۱) زره (۹٦۲) کیلو گرامه قاچاقي توکي نیولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل له گمرکي محصول پرته ئې په پټه افغانستان ته راوړي. په نیول سویو توکو کې (۱۵۸۰۴) کیلو گرامه چاکلېټ، (۸۴۴۰) کیلو گرامه گوړه، (۴۹۷۲) کیلو گرامه مالتې، (۵۲۷۸) کیلو گرامه انساني، زراعتي او حیواني درمل، (۳۰۰۵) کیلو گرامه پمپر، (۲۹۷۳) کیلو گرامه البسه، (۱۴۴۰) کیلو گرامه مالگه او (۵۰) کیلو گرامه پلاستیکي کڅوړي شاملي دي. نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي.

د یادوني وړ ده، چې د مالیې وزارت د گرځنده څارني کارکوونکي په ټول هیواد کې گرځنده څارني کوي او هیچا ته اجازه نه ورکوي، چې ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.

# د لوگر مستوفیت او ترافیکو لوی مدیریت تر منځ ناسته وسوه



د لوگر ولایت مستوفیت مسئولینو د دغه ولایت د ترافیکو لوي مدیریت له استازو سره د عراده جاتو د نوي اعلان سوي معافیت او د غیرمالیاتي عوایدو د څارني په تړاو وکتل. په دغه ناسته کې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) د (۵۳۲۰/۵۰۳) گڼې فرمان، چې د عراده جاتو د مالیاتي، ټرانسپورټي، جوازسیر او ترافیکي باقیاتو د معافیت په تړاو دئ او همدارنگه د عوایدو له پاره د نویو سرچینو په پیداکولو او له شته عوایدي سرچینو څخه په سم ډول د عوایدو د راټولولو په برخه کې هر اړخیز بحث وسو. یاد مدیریت د عوایدو په راټولولو کې د پوره شفافیت ډاډ ورکړ او زیاته ئې کړه، چې په دې برخه کې به نه ستړي کېدونکي هلي ځلي وکړي؛ ترڅو خپل ټاکلي هدف ته ځان ورسوي.

شتمني SHTAMANI
اوونیزه

# د بهرنیو اسعارو پر وړاندي د افغانیو ارزښت کمېدل

ریاست عمومی تحلیل برنامه ها، پالیسی ها و انسجام کمک ها

په دې وروستیو کې د افغانیو په مقابل کې د امریکایي ډالرو ارزښت د پام وړ لوړ سوی دئ او دې چاري تر یوه بریده د هیواد پر اقتصادي، مالي او د خلکو پر ژوند منفي اغېزې غورځولي دي او د خلکو ترمنځ ئې یو شمېر اندېښني پیدا کړي دي، چې په لاندي ډول ورته اشاره کوو.

• د اسعارو په بازارکي د ارز ارزښت د نورو اسعارو د تقاضا او عرضې تر اغېزې لاندي وي او عرضه او تقاضا بیا د اقتصادي او سیاسي ټولیزي فضا تر تاثیر او اغېزو لاندي راتلای سي او که چیري دغه فضا او محیط مثبت وي له کورنیو اسعارو څخه ملاتړ او حمایت کېږي او که چیري فضا او چاپیریال منفي او نا مساعد وي بیا اسعارو ته تقاضا کمېږي.

• د نورو لاملونو ترڅنګ تجارتي کسر د کورنیو اسعارو یو لامل هم کېدای سي په هر اندازه، چې تجارتي کسر موجود وي د اسعارو پر وړاندي ستونزي رامنځته کولای سي.

• په افغانستان کي شاوخوا (۱۰) میلیارده ډالره واردات لرو او (۱،۸) میلیارده ډالره صادرات، چې ترمنځ ئې د (۸،۲) میلیارده ډالرو لوی کسر موجود دئ.

**نړیوالي مرستي:**

• د نړیوالي ټولني له خوا، چې له افغانستان سره کومې مرستي ترسره او بازار ته وړاندي کېدې عام روایت دا وو، چې نړیوالو مرستو د هیواد د تجارتي کسر انډول ساتلي وو او دغه مرستي د پولي ثبات حیاتي عامل بللي سوي دي.

• نړی په ځانګړې توګه د امریکا په متحده ایالاتو کي وروستیو بدلونونو د افغانستان په خلکو منځ کي یوشمېر اندېښني را ولاړي کړي دي او فکر کوي، چې نړیوالي مرستي بندېږي؛ نو په دې اساس خپلي پیسې (افغانۍ) تبادله کوي او ډالر پرې رانیسي، چې دې چاري د ډالرو له پاره تقاضا زیاته کړې، چې د افغانیو پر ارزښت باندي ئې منفي اغېزې غورځولي دي.

• هغه پراختیایي او بشري پروژې، چې د لویو، منځنیو او کوچنیو مرستو کوونکو لخوا تمویلېږي په عادي ډول رواني دي او د اسعارو پر بازار ئې هیڅ ډول اغېز نه دئ کړی.

• هر ډالر (۸۲) افغانۍ ته ورسېده، چې افغانیو تر یوه حده خپل ارزښت له لاسه ورکړ؛ خو د افغانستان بانک په بازار کي د خپلو سیاستونو په کارولو سره د افغانیو د ارزښت کمېدو مخه ونیوله.

• هغه خلك، چې فکر کوي افغانۍ به خپل ارزښت له لاسه ورکړي دوی ته روښانه پیغام دادئ او باید په دې پوه سي، چې د افغانستان اقتصاد له بهرینو مرستو سره نه دی تړلی او افغانستان د خپلو اسعارو د ساتني وړتیا لري.

• یو شمېر کړی هڅه کوي، چې د اسعارو په بازار کي منفي تبلیغات وکړي، چې د بهرنیو مرستو بندېدل د افغانیو پر ارزښت بدي اغېزې لري او دغه کړی سیاسي انګېزه لري او په دې کار سره نظام ته ضربه رسوي. تمه داده، چې دا ډول لوبي وپېژندل سي او ورسره مقابله وسي.

• د افغانستان بانک په تخنیکي کچه هڅه کوي؛ ترڅو د افغانیو ارزښت کنټرول کړي او په کافي توګه ډالر بازار ته وړاندي کړي دي؛ نو باید د دې ډاډ تر لاسه سي، چې په بازار کي بل لوبغاړی نه دئ موجود او بازار باید تر دقیق کنټرول لاندي راسي.

**د بهرنیو مرستو ځنډېدل:**

په امریکا کي د سیاسي بدلون او د نوي ولسمشر په راتګ سره د دې هیواد چارواکو له خوا پر یو شمېر هیوادونو سیاسي او اقتصادي بندیزونه وضع سول، چې د هغوی په قطار کي یو هم افغانستان دئ. کله چې د امریکایي چارواکو له لوري افغانستان سره د مرستو د ځنډ اعلان وسو او ورسره جوخت د هیواد په اقتصادي او مالي سیکټور باندي تر یوه حده منفي اغېز وسو، چې یو هم د ډالرو پر وړاندي د افغانیو د ارزښت بایلل دي.

د دریو کلونو په اوږدو کي د نړیوالي ټولني په ځانګړې توګه د امریکا له خوا له افغانستان سره په نغدي ډول مرستي ترسره کېدې، چې د افغانستان بانك د سیاستونو ترڅنګ د افغانیو د ارزښت په ساتلو کي ئې د پام وړ رول درلود، کله چې دغه مرستي ځنډېږي د افغانیو د ارزښت په ټیټولو کي ئې د پام وړ رول درلود.

**پر افغانیو د خلکو بې باوري:**

اقتصادي بې ثباتي، د هیواد له ناڅرګند وضعیت څخه د خلکو اندېښني او یو شمېر بې بنسټه پروپاګنډ پر افغانیو د عامو خلکو بې باوري زیاته کړې ده. عام خلك او سوداګر هڅه کوي، چې خپلي پیسې (افغانۍ) په ډالرو تبادله کړي، چې دې چاري د امریکایي ډالرو له پاره تقاضا زیاته کړې او ارزښت ئې د افغانیو پر وړاندي لوړ سوی دئ.

**ګاونډیو هیوادونو ته د ډالرو قاچاق:**

د هغو لاملونو په قطار کي، چې د ډالرو د ارزښت د لوړېدلو لامل سوی دئ، یو هم ګاونډیو هیوادونو یعني ایران او پاکستان ته د بهرنیو اسعارو په ځانګړې توګه د ډالرو قاچاق دئ. په یادو هیوادونو کي د اقتصادي ستونزو له امله ډالرو ته تقاضا زیاته سوې ده؛ نو په دې اساس د ډالرو قاچاق زیات سوی دئ.

**په افغانستان کي د ډالرو د نرخ لوړېدو د نه کنټرول په صورت کي راتلونکي ستونزې:**

که چیري په هیواد کي د ډالرو لوړ نرخ کنټرول نه سي یو شمېر اقتصادي او ټولنیزي ستونزي رامنځته کولای سي، چې د خلکو پر ژوند او اقتصاد بدي اغېزې کوي.

**۱- د خلکو پر ژوند ئې اغېزې:**

• د وارداتي او خوراکي توکو لکه اوړو، وریجو، غوړيو او بورې د بیو لوړېدل.
• د درملني، سون توکو او موټر د کرایې لوړېدل.

**۲- د افغانیو د ارزښت کموالی او پر افغانیو د خلکو بې باوري:**

• پر افغانیو د خلکو بې باوري او د خلکو له خوا د افغانیو پر ځای د ډالرو ذخیره کول
• له هیواد څخه د پانګې وتل او د کورنۍ پانګوني کمېدل
• قتصادي بحران او د کاري فرصتونو کمېدل
• د بېکارۍ د کچې لوړېدل

**۳- له هیواد څخه بهرته د پانګې او خارجي اسعارو لېږدول:**

• د کورنیو تولیداتو کموالی، فابریکو او شرکتونو د کار درېدل
• بهرنیو توکو ته د اړتیا زیاتېدل
• پر عامو خلکو اقتصادي فشارونه زیاتېدل

**۴- د بېوزلۍ او ټولنیزو ستونزو زیاتېدل:**

• بشري مرستو ته د خلکو د اړتیا لوړېدل
• د اقتصادي ستونزو له کبله د جنایي جرمونو زیاتېدل
• د کډوالۍ زیاتېدل

# اعلانات داوطلبی

### اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاك امارتی وزارت مالیه (۴) جایداد امارتی ذیل مربوط ناحیه اول، چهارم و یازدهم شهر کابل را به شکل آفر سربسته طور جداگانه به داوطلبی می سپارد.

۱.یک باب غرفه نمبر(۲۹) به مساحت(٤,۲) مترمربع واقع منزل اول تعمیر(۱٤) منزله سینما پامیر مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳۳۳۰۰ ) افغانی مدت(۳) سال.

۲. یک باب غرفه نمبر(۲۲) به مساحت(۵,۰٦) مترمربع واقع منزل اول تعمیر۱٤ منزله سینما پامیر مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ٦۱۰۰۰ ) افغانی مدت(۳) سال. کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۲۱۹ - ۳٤,۵۱۳٤۲

۳. بام دوکان مغازه نمبر(۱۰) واقع لیسه مریم به مساحت (۲٦۸) مترمربع مربوط ناحیه۱۱ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(٦٤۳۲۰) افغانی مدت (۱) سال. کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۳۸۹۸ - ۳٤,۵۷۸۹۲

٤. یک دربند حویلی ٤ اطاقه بدون کلکین به مساحت(۲۸۱,۸۷) مترمربع ویک حلقه چاه آب که اطاق آن در پیاده رو موقیعت دارد به مساحت(۲۷,٦٦) مترمربع واقع کوچه۱٤ پروان سوم مربوط ناحیه٤ شاروالی کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(٦۳۰۰) افغانی، مدت(۳) سال. کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۳۱۵۳- ۳٤,۵٤۳٦۲

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق الذکر باشند میتوانند در خواست های شان را بعد از تاریخ۱۵ دلو ۱٤۰۳ الی ۲۸ دلو ۱٤۰۳ به ریاست عمومی املاك دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس:سینما پامیر تعمیر۱٤منزله، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکزي.

شماره تماس-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷.

مجلس داوطلبی تاریخ ۲۹ دلو ۱٤۰۳ به ساعت۱۰:۰۰قبل از ظهر برگزار میگردد

### د داوطلبۍ خبرتیا

د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست، غواړي چي د کابل ښار لومړۍ، څلورمې او یوولسمې ناحیې اړوند (۴) امارتي ملکیتونه په جلا جلا ډول داوطلبۍ ته وړاندي کړي.

۱- د کابل ښار لومړۍ ناحیې اړوند سینما پامیر (۱۴) پوړیزې ودانۍ لومړي پوړ کي یو باب (۲۹) شمېره غرفه چي (۴.۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۳۳۳۰۰) افغانۍ دی د (۳) کلونو لپاره په کرایه ورکوي.

۲- د کابل ښار لومړۍ ناحیې اړوند سینما پامیر (۱۴) پوړیزې ودانۍ لومړي پوړ کي یو باب (۲۲) شمېره غرفه چي (۵.۰٦) متره مربع مساحت لري چي ابتدایي کرایه ئې (٦۱۰۰۰) افغانۍ کیږي د (۳) کلونو لپاره په کرایه ورکوي. کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۲۱۹ - ۳٤,۵۱۳٤۲

۳- د کابل ښار (۱۱) مي ناحیې اړوند لیسې مریم کي د (۱۰) شمېرې مغازې د دوکانونو بام چي (۲٦۸) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٦٤۳۲۰) افغانۍ دي د (۱) کلونو لپاره په کرایه ورکوي. کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۳۸۹۸ - ۳٤,۵۷۸۹۲

٤- د کابل ښار (۴) مي ناحیې اړوند دریم پروان ( سوم) په (۱۴) مه کوڅه کي یو دربند حویلۍ چي (۲۸۱.۸۷) متره مربع مساحت په درلودلو سره (۴) خوني پرته د کړکیو او یوه حلقه د اوبو څاه چي (۲۷.٦٦) متره مربع مساحت میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٦۳۰۰) افغانۍ دی د (۳) کلونو لپاره په کرایه ورکوي.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۳۱۵۳- ۳٤,۵٤۳٦۲

هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي ملکیت په کرایه ونیسي، کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د (۱۴۰۳/ سلواغې/ ۱۵) څخه وروسته تر (۱۴۰۳/ سلواغې/۲۸) نېټې پوري د امارتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپانه ترلاسه کړي.

آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د داوطلبۍ نېټه: د (۱۴۰۳/ سلواغې/ ۲۹) نېټه، د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷ -۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

### د داوطلبۍ خبرتیا

د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست، غواړي چي د کابل ښار(۵) مي ناحیې اړوند د نظیف مارکېټ (۱۰) بابه دوکانونه په جلا جلا ډول د یو کال له پاره داوطلبۍ ته وړاندي کړي.

۱- د نظیف مارکېټ دوهم پوړ اړوند، یو باب A-۹۸ نمبر دوکان چي (٤۸) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۸۰۰۰) افغانۍ ده.

۲- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب B-۱۰۱-۱۰۲-۱۰۳ نمبر دوکان چي (۳٦) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۸۰۰۰) افغانۍ ده.

۳- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب B-۱۰۷ نمبر دوکان چي (۱۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.

۴- د نظیف مارکېټ اړوند، یو بابB-۱۱۰ نمبر دوکان چي (۱۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۳۵۰۰) افغانۍ ده.

۵- د نظیف مارکېټ دوهم پوړ اړوند، یو باب B-۱۳۲ نمبر دوکان چي (۱۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۵۰۰) افغانۍ ده.

٦- د نظیف مارکېټ دوهم پوړ اړوند، یو بابB-۱۳٦ نمبر دوکان چي (۱۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۵۰۰) افغانۍ ده.

۷. نظیف مارکېټ دوهم پوړ اړوند، یو بابB-۱۳۰ نمبر دوکان چي (۱۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۵۰۰) افغانۍ ده.

۸. د نظیف مارکېټ دوهم پوړ اړوند، یو بابD-۵ نمبر دوکان چي (۸,۷۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۳۰۰۰) افغانۍ ده.

۹. د نظیف مارکېټ دوهم پوړ اړوند، یو بابD-۷ نمبر دوکان چي (۱٦,۹٦) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۳۰۰۰) افغانۍ ده.

۱۰. د نظیف مارکېټ دوهم پوړ اړوند، یو بابD-۸ نمبر دوکان چي (۱٦,۹٦) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۳۰۰۰) افغانۍ ده.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۱۷٤٦-۳٤,۵۱۵۲۷۲

هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي دوکانونه په کرایه ونیسي، کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د (۱۴۰۳/ سلواغې/ ۱۷) څخه وروسته تر (۱۴۰۳/ سلواغې/۳۰) نېټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپانه ترلاسه کړي.

آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د داوطلبۍ نېټه: د (۱۴۰۳/کب/ ۰۱) نېټه، د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷ -۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤



شتمنۍ SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز خښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکسپانه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)







# اُزبکستان او افغانستان د سوداګریزو تړونونو په اړه لاسونه سره ور کړل

د اذربایجان ترېنډ خبري اژانس - trend لیکلي دي، چې اُزبکستان او افغانستان د (٤,٥) میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت سوداګریز تړونونه لاسلیک کړل.

د افغانستان د اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ له وزیر الحاج نورالدین عزیزي سره د خبرو په جریان کې دواړو خواوو د سوداګرۍ پر زیاتولو، د اُزبکستان د خصوصي سیکټور نوښتونو د ملاتړ او د پخوانیو موافقه سویو ژمنو په اړه د همږغۍ پر ښه کولو تمرکز وکړ.

د اُزبکستان پلاوی، چې حکومتي چارواکي او د خصوصي سیکټور استازي په کښې شامل ول، کابل ته د اُزبکستان د لومړي وزیر ښاغلي عبدالله اریپوف د سفر پر مهال د سویو ژمنو د پلي کولو له پاره راغی.

راپور زیاتوي، چې اُزبک پلاوي افغان مسؤلانو ته د افغانستان له کانونو او پیټرولیم وزارت سره د خپلو غونډو او د دواړو هیوادونو د خصوصي سیکټور استازو ترمنځ د سوداګریزو خبرو اترو په اړه هم معلومات ور کړل.

ښاغلي عزیزي صاحب د اُزبکستان د خصوصي سیکټور د نوښتونو هرکلی وکړ او وړاندیز ئې وکړ، چې په کال کې تر پنځو پورې د ملي محصولاتو نندارتونونه په ترمِز نړیوال سوداګریز مرکز کې تنظیم کړي.

د غوره سوداګرۍ تړون نهایي کول، د سمنګان د سیمېنټو فابریکې مهمو مسئلو ته رسیده‌ګي او په دواړو هیوادونو کې د سوداګریزو مرکزونو جوړول هم د مجلس یوه برخه وه.

په (۲۰۲٤)ز کې د اُزبکستان او افغانستان ترمنځ سوداګریزه تبادله (۱,۱۳) میلیارډه ډالرو ته رسېدلې وه ــ افغانستان ته صادرات (۱,۰۸) میلیارډ ډالر کېدل او ټولټال واردات بیا (٤٤,۹) میلیونه ډالر ول.

ترېنډ پخوانیو اقتصادي اړیکو ته په کتو لیکي، چې په (اګسټ/ ۲۰۲٤)ز کې د افغانستان او اُزبکستان ترمنځ د پانګونې او سوداګرۍ (۳۵) تړونونه لاسلیک سول، چې ټولیز ارزښت ئې (۲,۵) بیلیونه/ میلیارډه امریکایي ډالر کېدی.

د اُزبکستان د پانګونې، صنعت او سوداګرۍ وزیر راپور ته ویلي دي، چې د دې تړونونو موخه دا ده، ګوندي د افغانستان او اُزبکستان ترمنځ د سوداګرۍ حجم (۳) بیلیونو ډالرو ته لوړ سي.

- په کلني ډول دي د ملي محصولاتو نندارتونونه په ترمِز نړیوال سوداګریز مرکز کې تنظیم سي
- په (۲۰۲٤)ز کې د اُزبکستان او افغانستان ترمنځ سوداګریزه تبادله (۱,۱۳) میلیارډه ډالرو ته رسېدلې ده
- تمه ده د افغان - اُزبک تر منځ سوداګریز حجم (۳) بیلیونو ډالرو ته لوړ سي.

# Promotion of Domestic Industry: MoF Hikes Tariff as DM for Customs, Revenues Identifies Items

The fifth meeting of the 'Tariff Committee' for the current year 1403 was held in the meeting hall of the DM for Customs and Revenues of MoF, led by DM Alhaj Mufti Abdul Matin Saeed At the beginning of the meeting, the Tariff Directorate observed the requests of traders and industrialists regarding the items mentioned below in chart, and shared commercial,

| NO | Items | Previous Tariff | New Tariff |
|---|---|---|---|
| 1. | Greenhouse Plastic Film/ Polyethylene Film | 8% | 16% |
| 2. | Matches | 10% | 16% |
| 3. | Toys | 20% | 30% |
| 4. | Preform | 6.5% | 12% |
| 5. | Eggs (Ordinary Tariff) | 16% | 25% |
| 6. | Eggs (Seasonal Tariff) | 20% | 30% |
| 7. | Turkish Stoves/ Heaters | 10% | 20% |
| 8. | Grinder Blade | 5% | 2.5% |
| 9. | Wooden Door | 10% | 12% |
| 10. | Fryums | 25% | 40% |
| 11. | Motorbike's parts | 8% | 12% |
| 12. | Iron Ingot | 5% | 1% |




industrial and market analysis with the attendees of the meeting.

After a comprehensive discussion on the following items, the members of the Tariff Committee made decisions based on the principle of supporting domestic industry, growth of trade and national revenues, which will be implemented in accordance with the tariff principles after the approval of MoF.

The committee also decided to create 'national tariff codes' for numerous goods in order to facilitate trade.

# NOTICE of MoF Regarding Containers Imported by Commercial Corporations

In accordance with the requests of traders, based on the decision of the administrative meeting of the General Directorate of Customs, and the approval of the DM for Customs and Revenues, the containers temporarily imported into Afghanistan by commercial corporations, which have completed a three-month period and have not been



returned, the owners are kindly informed to send back their containers by the end of the current Hut/ 1403 Hijri year - 19/Mar/ 2025.

If containers are not returned within the given specified time, they will be subject to customs duties, after which no one has the right to complain, based on the decision.

Note: According to customs regulations, when commercial corporations import containers filled with merchandises into Afghanistan, they are required to re-export the containers from the country within three months - failure to do so will result in customs penalties as MoF informs traders.

## د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.

ټیلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( +۹۳ )
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af



## د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

## ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همېشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱